پوهاند عبدالحی حبیبی

۲۰۱۸/۰۲/۰۹

# پښتانه باید کار وکي نه تشي خبري

د هیواد ښاغلی لیکونکی له ما څخه مکرراً دا غواړي چي د هیواد لپاره کوم مضمون ولیکم.

زه چي له ځانه سره فکر کوم، کوم داسي مضمون نه دئ پاته چي بکر وي، او چا څه نه وي پر لیکلي. هغه خبري چي اوسنی محیط یې برداشت لري اکثرو خلکو وکړې. زما خیال دا دئ چي اوس د خبرو رنګ واړوو او د پاړسو په قول "سخن نو آر که نو را حلاوتی است دگر" عمل وکړو، خبري خبري خبري! دا تر کومه؟

زه د هیواد له لوستونکو څخه دا پوښتنه کوم: زما پخپله په یاد دي چي دېرش کاله دمخه سراج الاخبار په خبرو پیل وکړ، او تر اوسه موږ هغه خبري کوو، لیکوال ناري، غلبلې وهي، مګر د عمل په میدان کي موږ ډېر محدود قدمونه ایښي دي. که په خبرو څوک لوړېدلای، نو ښایي چي اوس به موږ اقلاً له خپلو همسایګانو سره خو برابر وای. مګر اوس چي زه خپل حال ته ګورم نو دا وینم، چي موږ ډېر خپل د ملي ژوند پاخه اساسونه نړولي دي خو نوي شیان مو په عوض کي هیڅ نه دي درولي.

موږ ټولي هغه نقطې چي پخوا به ملت پر راغونډېدی پخپل لاس وراني کړي، مګر د راټولېدلو نوي مراکز مو جوړ نه کړل.

موږ د پخوانو اخلاقو مبادي وران کړل، خو د نوو افکارو د روزني لپاره مو څه ونه کړل. آیا پوه او سنجیده خلک داسي کوي؟

پوهان خلک زړې بناوي هغه وخت ورانوي، چي نوي بناوي جوړي کړي، موږ زړې او پخوانۍ بناوي ورانوو د نوو بناوو او ودانیو درک نسته.

موږ خبري ډېري کوو، مظاهرات مو خورا ډېر دي، نمایشونه خورا قوي دي، غټ غټ وایو، خو د عمل په میدان کي صفر یو.

مظاهروي ژوند او نمایشي دودونه انسان په غرور مبتلا کوي، او غرور په اجتماعي مواقفو کي سخت مضر دئ.

به اهتمام ملالی نظام

یو ملت چي د غرور په درد اخته سي او ځان ډېر لوړ ورته وایسي  او ځان ونه پېژني نو لار ځني ورکېږي، او یو لار ورکی ملت آخر د فنا ګړنګ ته لوېږي.

اوس د دي وخت نه دئ، چي موږ خپل ځان په تشو خبرو وغولوو، د هر فکر لپاره باید عملي لار وڅېړو او که مو له لاسه وشي، یو قدم د مقصد پر لار له خروارو خبرو څخه زیات وګڼو.

موږ پښتانه نن ډېر محتاج او لڅ لغړ قوم یو، یو ګز خمتا او یو موټ اوړه راته له ډېرو مقالاتو او غرا خبرو غنیمت دي.

دا لڅ لغړ قوم په تن پټول غواړي، د دوی نس مړول غواړي، تاسي د تشو خبرو جوغه د دوی په پټکي کي مه ږدئ.

زما پلار پلانی خان و، او نیکه مي توریالی و، ور نیکه مي پر دنیا حکومت کاوه، پر اوومه پېړی له ... سره ګډېږم. مګر اوس لڅ لغړ بربنډ په وږي ګېډه تاسي ته پر میدان ولاړ یم او یوې ګولي سوکړک ته مي زړه چوي.

نو آیا تاسي به ما لېونی نه وبولئ چي زه په قدیمو مفاخرو ځان مړوم او د ډوډی پر ځای زوړ تاریخ خورم؟

آخر د خدای لپاره لږ څه فکر په کار دئ، د عمل پر میدان که مو څه وموند ښه او که نه نو په دي جذباتو زموږ قوم نه ښاغلی کېږي، نه باید ځان خطا باسو او نه نور.

په اندېښنو مي ځان پاچا کی

سر مي راپورته کی ملنګ د دوهي ومه

طلوع افغان، ۱۳۲۸ ش، ٦٥ ګڼه، دوهم مخ.

پای